کیږی، څنگه چه زما دے خور هم اوس خبره اوکړه چه د پولیس انکوائری پولیس کوی نو د هغوی به څه انکوائری وی؟ هغه رپورټ به هم دا وی چه "*سب ٹھیک ہے*" ته چاته د شکایت درخواست اوکړے، آئی۔جی صاحب ته درخواست اوکړے چه فلانکے تهانیدار یا د فلانکے علاقے سړی مونږ سره یا چا سره زیاتے کړے دے نو هغه به اولیکی ډی۔آئی۔جی ته، ډی۔آئی۔جی بیا ایس۔پی ته، ایس۔پی به هم هغه تهانړے ته، یعنی کیس به بیا لاړشی تهانړے ته، نو هغه تهانیدار به څه جواب کوی چه جی، سب ٹهیک ہے، سپیکر صاحب! د لاء اینډ آرډر سچوئشن دے ملک کښ داسے حالات پیدا شول، په دے پولیس د دے اختیارات د پاره چه تاسو دا دومره لوئے مهنگائی په پاکستان کښ څه چه زمونږ صوبه کښ ټولو نه زیات داوړو تکلیف وو، چرته تاسو او لیدل چه چرته داسے مجسټریټ چهاپه وهلے وی، څوک ئے نیولے وی، 3/6، Food Act کښ ئے ساتلے دی یا د اوړو ریټ ئے کم کړے دی؟ هغه شانتے بالکل هر شئے التا دے سپیکر صاحب۔ نو هغه چه کوم اختیارات پولیس ته دے پولیس آرډر کښ ورکړے شوے دی، دا زما خیال دے د پاکستان تاریخ کښ داسے، مونږ مخکښ دا ژړل دلته چه پولیس ته دومره اختیارات دی چه هغه عام خلق ترے تنگیږی، التا هغوی ته نور داسے اختیارات ملاؤ دی، هغه جوډیشل اختیارات هم تقریباً څه حده پورے ورته ملاؤ شول، د چار دیواری هډو پرواه به ورته نه وی۔ څه چه هغه کوی، هغه به حکم وی، هغه به قانون وی، هغه آئین وی۔زما سپیکر صاحب، خواست دا دے چه دا پکار دا ده چه مرکز د دا Reconsider کړی او دا پولیس آرډر چه دے، ډیر زیات دے کښ Amendments کیدے شی، ټهیک کیدے هم شی، دا نه ده چه دا نه شی ټهیک کیدے۔ دے کښ داسے خبرے دی چه هغه ښه هم دی، خو زیاتے خبرے هغه دا دی چه هغه غلطے دی پکښ۔ هغه دے عوامو سره، زمونږ دے صوبه کښ چه کوم خلق اوسیږی، تاسو ته پته ده سپیکر صاحب، بیروزگاری د ټولو نه زیاته دے صوبه کښ ده، غربت ټولو نه زیات دے صوبه کښ دے، لاء اینډ آرډر سچوئشن دا حال دے تاسو اوگوری چه هغه زمونږ پیښور کښ د ورځے شپے دا کله، زما خیال دے، زما یاد کښ خو چرته پیښور کښ راکټونه نه دی پریوتے، راکټونه پریوتے دی، څوک تپوس والا نشته نو سپیکر صاحب، دا

پولیس آرډر چه دے ، دا زما خیال دے د مارشل لاء او د دے د غیر جمهوری حکومتونو په عوامو باندے یو بل داسے Thrash شوے شے دے چه تکلیفات پکښ زیات دی او Facilities پکښ کم دی۔ نو زما به دا خواست وی چه دا د Reconsider شی۔ ډیره مهربانی۔

جناب سپیکر: جی، ڈاکٹر محمد سلیم صاحب۔

ڈاکٹر محمد سلیم: محترم جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیره زیاته شکریه ادا کوم چه تاسو ما له په پولیس آرډر باندے د بحث اجازت راکړو۔پولیس ته خو د مخکښ نه دومره زیات اختیارات حاصل دی چه که چرته دے پاکستان ته مونږ Police state اووایو نو څه بده به نه وی او چه د دے نه ورته زیات اختیارات ورکوؤ نو هغه یو شاعر وائی:

حسن اس پری وش کا اور پھر بیان اپنا　　بن گیا رقیب آخر تھا جو رازداں اپنا

نو چه نور اختیارات ور له ورکوؤ نو چه بیا به څه حال وی؟ زه مخکښ ځل چه په اسمبلئ کښ ووم، په دے پولیس او د دے په اختیاراتو باندے ما خبرے کړے وے نو ما نه ټوله انتظامیه خفه شوے وه او هغے کښ ما دا شعر وئیلے وو۔

کچھ سمجھ کر ہی ہوا ہوں موج دریا کا حریف　　ورنہ میں بھی جانتا ہوں عافیت ساحل میں ہے

نو دا ځل دا خبره ده چه زه په دے باندے ډیره څه وینا نه کومه ولے چه:

کچھ ایسی ہی بات ہے جو چپ ہوں　　ورنہ کیا بات کر نا نہیں آتی

ډیرے خبرے راځی خو خبرے کوم نه، ولے چه نوره دشمنی ځان له نه زیاتوم، افسرانو سره نور تعلقات خرابول نه غواړمه۔ خدائے خبر چه بیا به زه پخپلهBlack list شمه۔ وائی، هغه د انګریزی یو محاوره ده: To live in Rome and fight with the pope او په پښتو کښ وائی چه په سمندر کښ اوسے نو مګر مچھ سره دشمنی کول نا ممکنه خبره ده نو زه په دے هډو نورے خبرے کول غواړم نه، دا یو څو مختصر خبرے مے اوکړے او دے باندے به ټول پوهه شو۔

جناب سپیکر: ډیره مهربانی، ډاکټر سلیم صاحب۔ جی، رفعت اکبر سواتی صاحبه!

محترمہ رفعت اکبر سواتی: Thank you Mr .Speaker, Sir۔ وہ کیا کہتے ہیں کہ بڑے بڑے سورماؤں نے گھٹنے ٹیک دیئے ہیں، کوئی بات کر نہیں رہا یا تو ڈر رہے ہیں یا وہ مگر مچھ سے بیر نہیں رکھنا چاہتے لیکن اس وقت صوبے کی سچوئشن ایسی ہے کہ اگر ہم اس رنگ میں سوچیں کہ ہم مگر مچھ سے بھی بیر نہیں کر سکتے اور بلیک لسٹ بھی نہ ہونا چاہتے، جیسے ڈاکٹر سلیم صاحب کہہ رہے ہیں تو یہ ہمارے لوگوں کو ہم ایک اچھا۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: وہ کہنا کچھ نہیں چاہتے تھے لیکن پھر بھی بہت کچھ کہہ چکے ہیں، وہ کافی ہے۔

محترمہ رفعت اکبر سواتی: ہم اصل میں سر، ایک بڑا Wrong signal اور Message بھیجنے کی کوشش کرتے ہیں کہ صوبے کے عوام پھر یہ سوچتے ہیں کہ شاید ہم لوگ Assemblies میں بیٹھ کر صرف باتیں کرتے ہیں، عملی جامہ ہم کسی چیز کو پہنانا نہیں چاہتے۔ جہاں تک رہا پولیس آرڈر کی بات تو میری پھر دوبارہ آپ کے through ایک گزارش یہی ہو سکتی ہے اور جیسے میرے بھائیوں نے بھی کہا کہ ہم Totally اس کو Disown تو نہیں کر سکتے، پولیس آرڈر کو لیکن جب ہر چیز میں Amendments ہو سکتی ہیں تو اس میں بھی Amendments کی بہت ساری گنجائش ہے۔ And I think کہ جہاں پر Feasible لگے، وہاں پر Definitely police is infringing on its rights یعنی مطلب یہ ہے کہ وہ تجاوز اتنا زیادہ کر جاتے ہیں کہ ہمیں محسوس ہو رہا ہے کہ یہ ایک پولیس سٹیٹ ہے۔ خاص طور پہ اس وقت صوبہ سرحد میں جو لاء اینڈ آرڈر کی سچوئشن ہے، اس میں پولیس کا بھی ایک اہم کردار ہے۔ ہم آرمی کو اس وقت Rule out کر رہے ہیں کہ ان کا کیا رول ہے؟ That has got nothing to do with the assemblies. لیکن جہاں تک پولیس کا رول ہے تو اس میں سر، ایک عام شہری کو جب تک تحفظ نہیں ملے گا، ایک عام شہری کی شنوائی نہیں ہو گی تب تک اس اسمبلی کے فلور پہ ہم روز، گاہے بگاہے چیختے رہیں گے اور بار بار یہی سوال اٹھاتے ہیں کہ Protection of life and property کیا چیز ہے جو کہ اس کا ایک بہت Important حصہ ہے۔ جب لاء اینڈ آرڈر کی ہم بات کرتے ہیں تو میرے خیال میں سب سے پہلے میری گزارش آپ کے Through پھر لاء منسٹر سے ہو گی کہ وہ بیٹھ کر ایک ہائی لیول، گو کہ کہتے ہیں کہ جب بھی کمیٹی بنے تو کام نہیں ہوتا لیکن میرے خیال میں ایک ہائی لیول کمیٹی کو Form کرنا بڑا ضروری ہے جو اس پولیس آرڈر کو In–detail study کرے۔ صرف ہم اس کے اوپر کے اوراق پڑھ لیتے ہیں، موٹی موٹی چیزیں دیکھ لیتے ہیں، اس کی

Intercaecies میں ہم نہیں جارہے، جہاں ہم یہ دیکھیں کہ ہم عام شہری کو Relief کیسے دیں؟ ہم بات کرتے ہیں سر، صرف Punishment کی۔ پولیس آرڈر میں خالی ایک حصہ Punishment کا ہی نہیں ہے، اس میں Reformative حصے بھی ہیں اور میرے خیال میں اگر کسی کو آپ نے Relief دینی ہو تو وہ بھی اسی میں آتا ہے۔ تو میری اس August ہاؤس سے بھی یہ گزارش ہے کہ ہاؤس میں آنے سے پہلے ان آرڈرز کو تمام ممبران Study کریں۔ ہمارا Problem یہ ہے سر، کہ ہم کسی Format کو Study نہیں کرتے اور بہت ساری فروعی باتیں کر کے چلے جاتے ہیں۔ If we all study and go through this police order اس کی Intercaecies کو ہم پڑھیں تو ہم Realize کریں گے کہ کچھ ایسا اس میں سسٹم ہے جو Colonial time سے چلا آ رہا ہے، جس کی اس وقت پاکستان کو ضرورت نہیں ہے۔ ہم تھوڑا سا اس سسٹم سے اب Debar کر دیں اور دوسرا میں دوبارہ یہی کہوں گی Infringing، وہ جو Situation ہم نے ایک بنائی ہوئی ہے کہ پولیس ایک "ہوا" بنی ہوئی ہے اس ملک میں اور ہم اس سے ہر وقت ڈرتے ہیں۔ اس سے ہم Relief نہیں لینا چاہتے ہیں۔ اس آرڈر میں اس طرح کی Amendment لائی جائیں جہاں شہری کو Punishment سے زیادہ Relief ملے۔ اگر Relief نہیں مل رہا تو اگر اس پولیس آرڈر کو ہم پڑھ بھی لیں تو ہمیں اس کا کوئی فائدہ نہیں، تو میری آپ سے یہی گزارش ہے کہ لاء منسٹر صاحب سے آپ کہیں کہ وہ کمیٹی جب Form کریں تو For God sake اپوزیشن کے ممبرز کو بھی اس میں اس لئے Include کریں کیونکہ یہ صوبے کا Future ہے اور بہت ساری Dependencies ہماری لاء اینڈ آرڈر کی Situation پہ ہوتی ہیں۔ اگر ہمارا لاء اینڈ آرڈر کمزور ہے تو Crime rate بڑھے گا، Unemployment تو Already ہے اور اس کے ساتھ ساتھ ہمارے دیگر ایشوز ایسے آتے جارہے ہیں جن سے ہم Feel کر رہے ہیں کہ ہماری سوسائٹی میں بہت سارے ناسور پیدا ہو رہے ہیں۔ ان ناسوروں کو ختم کرنے کیلئے ہمیں چاہئے کہ ہم اس پولیس آرڈر میں تھوڑی سی Amendments لے کر آئیں کہ ایک Relief package بھی ہمیں مل جائے۔ Thank you, Sir۔

<u>جناب سپیکر:</u> تھینک یو۔ جناب عبدالاکبر خان صاحب!

<u>جناب عبدالاکبر خان:</u> تھینک یو جناب سپیکر، میں مشکور ہوں آپ کا۔ مجھ سے پہلے آنریبل ممبرز نے اس کے Merits اور Demerits پر یہاں پر بات کی۔ میں کچھ Technical اور Constitutional

طریقوں سے اس پر بات کرنا چاہتا ہوں جناب سپیکر، اور میں سمجھتا ہوں کہ ہم اپوزیشن میں رہتے ہوئے حکومت کے ساتھ اس صوبے کے حقوق کیلئے، نہ صرف Financial حقوق کیلئے بلکہ Legislative حقوق کیلئے بھی ساتھ اکٹھے ہوں گے اور ہم اپنے صوبے کے حقوق، خواہ ان کا تعلق فنانس سے ہو، خواہ Legislation سے ہو، ہم اس پر کبھی Compromise نہیں کریں گے۔ جناب سپیکر، آپ کو معلوم ہے کہ 1973ء کا جب Constitution بنا تو اس سے ڈیڑھ سال پہلے اس ملک میں ایک واقعہ ہوا تھا اور اس واقعے کو مد نظر رکھتے ہوئے اس وقت کی اسمبلی نے ایک متفقہ آئین پاس کیا اور ان کے ذہن میں وہ واقعہ موجود تھا، تب ہی جناب سپیکر، انہوں نے 1973ء کے آئین میں صوبوں کو تھوڑے سے زیادہ اختیارات، بلکہ میں سمجھتا ہوں اور آئین کو پڑھتے ہوئے میں یہ یقین سے کہتا ہوں کہ یہ واحد آرٹیکل ہے جو اس آئین کو دنیا کے تمام آئینوں سے ممتاز بنا دیتا ہے جناب سپیکر۔ آپ آرٹیکل 142 کو دیکھیں جی، اس میں آپ " C " کو دیکھیں جی، "a Provincial Assembly shall, and [Majlis-e-Shoora (Parliament)], shall not, " یہ Wording آپ دیکھیں۔

<u>جناب سپیکر</u>: میں نے دیکھا ہے، Shall not ۔

<u>جناب عبدالاکبر خان</u>: ہاں، "a Provincial Assembly shall, and [Majlis-e-Shoora (Parliament)], shall not, have power to make laws with respect to any matter not enumerated in either the Federal legislative list or the Concurrent " مطلب یہ ہے کہ ان دو لسٹوں میں جو چیز نہیں ہے، اس کا اختیار صرف، صرف صوبائی اسمبلی کے پاس ہے، پارلیمنٹ کے پاس نہیں ہے۔ میں جناب سپیکر، ہندوستان جو کہ ایک بہت بڑی Federation ہے اور ہم دونوں اکٹھے آزاد ہوئے ہیں، ان کا اسی سلسلے میں آرٹیکل 248 ہے، اس میں لکھتے ہیں کہ "Parliament has exclusive power to make any law with respect to any matter not enumerated in the concurrent list of state or state list " یعنی وہاں پارلیمنٹ کو یہ اختیار دیا گیا ہے کہ جو چیز ان Lists میں نہیں ہے، صرف اور صرف پارلیمنٹ یعنی مرکزی اسمبلی ہی اس میں Amendment لا سکتی ہے اور Law بنا سکتی ہے۔ یہاں کے آئین میں یہ ہے کہ صوبے کو یہ اختیار ہے کہ ان دو لسٹوں میں جو چیز نہیں ہے، اس کا اختیار صرف اور صرف صوبے کے پاس ہے۔ جناب سپیکر! آپ کے Concurrent list اور Federal legislative list میں پولیس کا ذکر نہیں ہے تو جب پولیس کا

ذکر نہیں ہے تو اس "C" کے تحت اس کیلئے قانون سازی کا اختیار واحد اینڈ واحد Provincial Assembly کے پاس ہے۔اس کی قانون سازی صرف یہ پراونشل اسمبلی کر سکتی ہے، نیشنل اسمبلی یا مرکزی حکومت اس کیلئے قانون سازی نہیں کر سکتی۔اب جناب سپیکر، ایک اور ڈرامہ دیکھیں کہ آپ جب Sixth Schedule میں جاتے ہیں کیونکہ پولیس آرڈر کو Sixth Schedule میں Protection دی گئی ہے تو یہاں پر آپ دیکھتے ہیں کہ The Balochistan Local Government Ordinance, the N.W.F.P Local Government Ordinance,the Punjab Local Government Ordinance, the Sindh Local Government Ordinance، چونکہ یہ لوکل گورنمنٹ بھی دونوں لسٹوں میں نہیں ہے اس لئے یہ پراونشل سبجیکٹ ہے اور اس کیلئے آرڈیننسز، خواہ ٹھیک خواہ غلط، وہ اپنے اپنے صوبے نے بنائے ہیں لیکن جناب سپیکر، جب آپ نیچے آتے ہیں تو کہتے ہیں کہ The Police Order, 2002 یعنی صوبے کو اڑا دیا۔ لوکل گورنمنٹ کے لئے تو پھر بھی کسی حد تک اپنے اپنے صوبے کے آرڈیننس اور قانون سازی کی گئی اور اگر کل پریذیڈنٹ صاحب کے موڈ میں آیا تو اگر Amendment کریں گے تو یہ Provincial Assembly کرے گی، ہر ایک Provincial Assembly کرے گی لیکن پولیس آرڈر میں آپ Amendment نہیں کر سکتے کیونکہ وہ آپ کے Dominian سے لے لئے گئے ہیں، اس کو سنٹر میں لے گئے۔ چیف ایگزیکٹو آرڈر کے ذریعے وہ اٹھا کر لے گئے، اب آپ کے صوبے کے پاس یہ پاور نہیں ہے۔اگر پریذیڈنٹ صاحب چاہیں بھی، اگر Sixth Schedule کو ختم بھی کریں تو بھی آپ کے پاس پاورز نہیں ہیں کہ آپ پولیس کیلئے Legislation کریں۔ میں ایک سوال پوچھنا چاہتا ہوں کہ پولیس ایکٹ کا کیا ہوگا؟ یہاں پر Already جو Prevailing Police act ہے، اس کا کیا ہوگا؟ وہ تو صوبائی لاء ہے۔ اس میں Amendment, Alteration اور Deletion پراونشل اسمبلی ہی کر سکتی ہے۔ جب وہاں پولیس آرڈر کو لاتے ہیں تو پولیس ایکٹ کو تو پھر آپ پہلے ختم کریں گے اور ختم کرے گا یہ فورم، اس کیلئے کوئی دوسرا فورم نہیں ہے۔جب پولیس ایکٹ ہوگا تو اس کے ساتھ پولیس آرڈر کیسے چلے گا؟ ایک چیز کیلئے دو قانون کیسے چلیں گے جناب سپیکر، ایک طرف آپ کا پولیس ایکٹ چل رہا ہے اور دوسری طرف آپ کا پولیس آرڈر ہے، میں تو نہیں سمجھ سکتا کہ ایک چیز کے لئے دو قانون بیک وقت کیسے چلیں گے؟ اور مجھے کوئی کہے گا کہ تم اس کو Repeal کرو کیونکہ یہ تو تمہارا قانون ہے، اس کیلئے اپنا قانون Repeal کروں گا جناب سپیکر۔ میں سمجھتا ہوں کہ یہ، اور جناب سپیکر، دنیا میں کوئی بھی قانون ایسا نہیں

ہے کہ بننے سے پہلے اس کے Amendment پر پابندی لگائی گئی ہو یعنی نافذ ہونے سے پہلے، پولیس آرڈر ابھی تک نافذ نہیں ہوا ہے اور آپ نے 6th شیڈول میں اس پر پابندی لگادی ہے کہ آپ Amendment نہیں کر سکتے، کوئی بھی Amendment نہیں کر سکتا جب تک پریذیڈنٹ Consent نہ دیں۔ میں یہ سمجھتا ہوں جناب سپیکر، آپ لوکل گورنمنٹ آرڈیننس کو لے لیں کہ ایک سال میں دس Amendments اس میں ہوئی ہیں اور اب بھی اس میں Amendment کی ضرورت ہے اور یہ ایک ایسا قانون ہے جو نافذ ہی نہیں ہوا، جس کا پتہ نہیں کہ یہ کیسے چلے گا اور آپ نے اس پر ایک Bar لگادی کہ اس میں آپ Amendment نہیں کر سکتے۔ جناب سپیکر! جس طرح میں نے شروع میں کہا کہ جب ہم اس صوبے کے فنانشل حقوق کے لئے آواز اٹھاتے ہیں تو یہ بھی تو ہمارے قانونی اور آئینی حق پر ایک ڈاکہ ہے، ہم سے وہ حق چھینا جا رہا ہے جو اس آئین نے ہمیں دیا ہے، ہم سے وہ حق زور سے لیا جا رہا ہے اور آئین کہتا ہے کہ اس میں آپ Legislation کر سکتے ہیں۔ جناب سپیکر! میں سمجھتا ہوں کہ یہ بالکل، حکومت کو میں کہتا ہوں کہ پولیس آرڈر کو نافذ ہی نہ کریں، یہ کیسے کریں گے جب پولیس ایکٹ موجود ہے؟ جب ایک لاء موجود ہے، ایک قانون موجود ہے تو دوسرا نیا قانون تو تب آئے گا جب آپ پہلے والے کو Repeal کریں گے، تب نئے قانون کو نافذ کریں گے، نیا قانون تو آپ نہیں لا سکتے اس وقت تک جب تک آپ پہلے، جناب سپیکر، میں تو As a پاکستان پیپلز پارٹی پارلیمنٹیرین اور میرے خیال میں ہمارے اکثر MPAs بھی، جب صوبے کے حقوق کی بات آتی ہے تو ہم آپ کے ساتھ ہوتے ہیں، اس کے لئے بھی ہم آپ کے ساتھ ہیں، ہم کہتے ہیں کہ پولیس آرڈر کو نافذ نہ ہونے دیں، یہ ہمارے صوبے کے حقوق پر ڈاکہ ہے (تالیاں) یہ ہمارے ساتھ جناب سپیکر کیا ہو رہا ہے؟ دنیا کے کس قانون میں ہے خاص کر فیڈریشن میں؟ فیڈریشن میں تو لاء اینڈ آرڈر آپ مرکز کو دے نہیں سکتے۔ فیڈریشن میں رہتے ہوئے فیڈریٹنگ یونٹس سے آپ جب لاء اینڈ آرڈر اٹھالیں گے، آپ ان سے چھین لیں گے، آپ وہ Centralize کریں گے، آپ مرکز کے پاس لے جائیں گے تو آپ کے وزیر اعلیٰ کی کیا حیثیت رہ جائے گی؟ وزیر اعلیٰ تو، He is Home Minister، وہ تو، He is incharge of the Police۔ جناب سپیکر! یہاں اس اسمبلی میں، ہمارے حلقوں میں جب ڈاکے پڑیں گے تو ہم بات بھی نہیں سکیں گے، ہمیں کہا جائے گا کہ یہ تو پراونشل سبجیکٹ ہی نہیں ہے۔ جب لوگوں کو لوٹا جائے گا تو پھر ہمیں کہا جائے گا کہ آپ اس پر بحث نہیں کر سکتے۔ جب لوگوں کو قتل کیا جائے گا تو ہمیں کہا جائے گا کہ

اس پر آپ بات نہیں کر سکتے کیونکہ یہ تو مرکزی قانون ہے، یہ تو آپ کے صوبے کا قانون ہی نہیں ہے، یہ حق ہم سے کیسے چھینا جا رہا ہے؟ جناب سپیکر! میں سمجھتا ہوں کہ اس پولیس کو، جس طرح ایک اور Institution میں اس کی Merit اور Demerit میں نہیں جاتا کہ بیوروکریسی نے اچھا کام کیا یا غلط کام کیا ہے، اس کو تباہ کر کے چھوڑ دیا ہے۔ اب اس Institution کو بھی Centralize کر کے ایک لیفٹیننٹ جنرل کو مرکز میں چار میجر جنرلز کو صوبوں میں اتنے ہی بریگیڈئیرز کو ڈویژنوں میں اور پھر لیفٹیننٹ کرنلز کو ڈسٹرکٹس میں اور پھر کپتان اور لیفٹیننٹ کو تھانوں میں ایڈجسٹ کیا جائے گا۔ جناب سپیکر! اور ابھی جو شروع کیا ہے لیکن خیر میں نے کہا کہ Merits and demerits پر مجھ سے پہلے بات بھی ہوئی ہے۔ میں تو اس کی ٹیکنیکل بات کر رہا تھا کہ ہم آپ کے ساتھ ہیں، بالکل ایک صوبہ بھی نافذ نہیں ہونے دے گا اس پولیس آرڈرز کو، ہمارا پولیس ایکٹ موجود ہے۔ اگر کچھ کمی ہے، اگر کچھ ضرورت ہے تو ٹھیک ہے ہم اس پولیس ایکٹ میں Amendment لانے کو تیار ہیں۔ اس پولیس ایکٹ میں اگر کوئی اچھائی لانی ہے تو ہم اس پولیس ایکٹ میں Amendment لا سکتے ہیں، یہ ہمارا اختیار ہے، ہم اس میں Amendment لائیں گے اور اس ایکٹ کو اور مضبوط بنائیں گے، اس ایکٹ کو اور اچھا بنائیں گے تاکہ اس کی کارکردگی اچھی ہو لیکن جناب سپیکر، یہ ہمارے حقوق پر ڈاکہ ہے اور ہم اس ڈاکے کو برداشت نہیں کریں گے۔ تھینک یو۔

(تالیاں)

<u>جناب سپیکر</u>: جناب اکرام اللہ شاہد صاحب!

<u>جناب اکرام اللہ شاہد (ڈپٹی سپیکر)</u>: شکریه سر۔ بسم الله الرحمان الرحیم۔ سر، په پولیس آرډر باندے زمونږ حاجی بلور صاحب هم ښه تقریر اوکړو جی او دهغے نه بعد عبدالاکبر خان صاحب ډیر په تفصیل سره ددے په آئینی او قانونی پهلو باندے رڼا واچوله نو زما خیال دے چه د زیات تفصیل خوئے ضرورت ځکه نشته دے جی، چه دوئ چه کوم اظهار خیال اوکړو نو دا بالکل صحیح دے ځکه چه دا پولیس Subject چه کوم دے نو دا یو صوبائی Subject دے جی او په دے کښې د قانون سازئ کولو اختیار صوبے ته او صوبائی اسمبلئ ته دے لیکن څنګه چه دوئ اووئیل چه په آئین کښې دے ته تحفظ ورکړے شوے دے او دا پولیس آرډر چه کوم دے، دا اوس وفاقی قانون جوړ شوے دے۔ د صوبو په دے کښې نشته لکه این۔ډبلیو۔ایف۔پی پولیس آرډر یا سندھ پولیس آرډر، دا نه دی۔ دا یو

مرکزی قانون ترے جوړ شوے دے نو چه هر کله مرکزی قانون ترے نه جوړ شو نو د صوبائی اسمبلئ خو په دے کښې څه اختيار پاتے نه شو جی، او دا پولیس آرډر چه کوم دے، چه یو طرف ته مونږ د لوکل گورنمنټ آرډیننس خلاف لگیا یو نو هغه خو لا بیا هم لکه چه د 6th شیډول نه اویستلے شوا و د غے کښې لیکی چه "No addition/alteration shall be made without the prior permission of the President" نو په هغے کښې ئے دا لا لیکلی دی چه د پریذیډنټ د منظورئ نه مخکښې په دے باندے پارلیمنټ، قومی اسمبلی، سینټ اوصوبائی اسمبلئ هډو بحث نه شی کولے۔ په هغے کښې معمولی Coma یا Inverted Comas هم پکښې نه شی بدلولے او بیا دا پولیس آرډر چه کوم دے، دا خو بالکل مرکز ته لاړ چه مرکز ته لاړ نو دا په صوبائی خودمختیارئ باندے یو ډیر لوئے کاری ضرب دے۔ مونږ د دے مذمت کوؤ او دا وایو دے خپل حکومت ته د ټولو ملگرو د طرف نه، کیدے شی چه زمونږ سره ټول په اتفاق رائے ورته دا اووائی چه د دے پولیس آرډیننس د نافذ کولو نه بالکل انکار پکار دے ځکه چه مونږ دلته راغلی یو، دلته مونږ د دے صوبائی اسمبلئ تحفظ به کوؤ او د صوبائی حقوقو تحفظ به کوؤ او په دے کښې چه څوک مداخلت کوی مونږ د هغه ملگرتیا نه کوؤ جی، او قرارداد په دے راوړل پکاردی یو متفقه چه یره مونږ دا پولیس آرډیننس چه کوم دے، دا نه منو۔

جناب سپیکر: جی، مولانا نظام الدین صاحب!

مولانا نظام الدین: جناب سپیکر صاحب! د پولیس آرډیننس په باره کښې-----

جناب سپیکر: پولیس آرډر-----

مولانا نظام الدین: جی د دے پولیس آرډر په باره کښې، په دے کښې یوه اهم خبره ده چه زنانه، پکار ده چه زنانه پولیس هم وی ځکه چه بعض وخت کښې کورونو ته د ننه تلل ضرورت راځی او د هغے د پاره زنانه پولیس پکار وی لیکن تاسو ته پته ده چه دوئ د عمر کوم حد چه مقرر کړے دے، هغه د 18 نه واخله تر30 سال پورے دے او دا بالکل زمونږ په د صوبه سرحد په دے معاشره کښې یو ډیر غلط کار به وی چه دا سے دومره کم عمره جینکئ په پولیس کښې بهرتی وی۔ زما دا تجویز دے چه

د دے د پاره کم از کم شادی شده او د 30 سال نه زیات عمر والا زنانه بهرتی کیږی نو زمونږ په دے معاشره کښې به انشاء الله تعالیٰ د هغے ډیر ښه اثر وی۔

جناب سپیکر: جی۔ امانت شاه صاحب!

جناب امانت شاه: شکریه جناب سپیکرصاحب۔ په پولیس آرډر باندے چه کومے خبرے اوشوے جی، په دے کښې یوه ډیره اهمه خبره داده چه نن په تهانړو کښې د یو ایس ایچ او په ځائے باندے دوه ایس ایچ اوګان ناست دی۔ مخکښې به یو ایس ایچ او وو جی، هغه به ټول کار سنهبالولو۔ اوس دغے آرډر سره دوه ایس ایچ اوګان پیدا دی نو یو، یو ځائے کښې ناست وی او بل په بل ځائے کښې ناست وی نو تفتیشی آفیسر د ، بل یو داسے طریقه ئے جوړه کړے ده چه هغه د ریلیف په ځائے باندے عواموته یو ډیر لوئے نقصان ثابتیدے شی۔ زمونږ خو خیال دا وو چه دا به ریلیف وی۔ بهر حال چه کوم آرډر صوبائی سبجیکټ دے نو صوبے له پکار دادی چه په هغے باندے هم پوره غوروحوض اوشی او چه کوم ښه څیزونه دی، هغه د ترے واغستلے شی او چه کوم بے کاره څیزونه دی، عواموته د هغے نه نقصان دے او تکلیف دے ترینه، هغه د د هغه آرډیننس نه یا دهغه آرډر نه اوویستلے شی، او ایم ایم اے دا تسلیم کړے نه ده، بشیر بلور صاحب په خدمت کښې چه ایم۔ایم۔اے تسلیم کړے نه ده چه دا آرډر یا ایل۔ایف۔او۔ د دے نه مخکښې هم بعضے پارټو یا بعضے کسانو هغه تسلیم کړے وه، ایم۔ایم۔اے یوازے داسے نه دی کړی چه ګنے دوئ یو آرډر هغه تسلیم کړے دے یا ایل۔ایف۔او ئے مستقل تسلیم کړے ده بلکه زمونږ مشرانو په دے باندے مستقل دهغوی سره خبرے اترے کړے دی او یو حده پورے تلی دی او هغه هم د څه مصلحت په بناء باندے تلی دی، څه داسے نه ده چه ګنے مستقله ایل۔ایف۔او، مونږ دا وئیلی دی چه په ایل۔ایف۔او کښې کوم څیزونه ښه دی نو هغه د واغستلے شی-----

جناب سپیکر: صرف پولیس، لږ په پولیس آرډر باندے راشه، په پولیس آرډر باندے خبره اوکړه، څه تجاویز ورکړه، څه دغه ورکړه؟

جناب امانت شاه: راځم جی، په پولیس آرډر باندے هم دغه خبره کوؤ چه چونکه نن اپوزیشن هم الحمدلله په دے باندے متفق دے۔ زمونږه به هم دا خواهش وی چه

کوم ښه څیزونه دی هغه د ترے واغستلے شی، چه کوم خراب څیزونه دی هغه د پریښودلے شی او دغه شانتے چه کوم دوه ایس ایچ اوګان دی نو هغه یو ایس۔ایچ۔او ته د اختیار ورکړلے شی او دا دویم ایس۔ایچ۔او د د هغے نه اوویستلے شی۔

<u>جناب سپیکر:</u> فرح عاقل شاه صاحبه!

<u>جناب بشیر احمد بلور:</u> سپیکر صاحب! صرف د ریکارډ درست کولو د پاره دا عرض کوم چه هغوی زما نوم واغستو زه په Personal explanation باندے دا خبره کوم۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی جی، بشیر بلور صاحب!

<u>جناب بشیر احمد بلور:</u> د ایل۔ایف۔او چه ما خبره اوکړه نو دا هم، دا پولیس آرډر چه دے نو په ایل۔ایف۔او کښ دے ته تحفظ ملاؤ شوے دے او په ایل۔ایف۔او باندے د ایم۔ایم۔اے مشرانو دستخطونه کړی دی۔ که دوئ دستخط نه وے کړے نو دا ایل۔ایف۔او به د آئین حصه نه جوړیده۔ دا به اسمبلئ زما خیال دے دا با لکل، نو په دے وجه ما دا وئیلی دی چه دے ایم۔ ایم۔ اے والو پرے دستخطونه کړی دی، نور زما دا مقصد نه وو۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی، عبدالماجد خان صاحب، عبدالماجد خان صاحب!

<u>جناب امانت شاه:</u> جناب سپیکر، جناب سپیکر!

<u>جناب سپیکر:</u> جناب عبدالماجد خان صاحب!

<u>جناب عبدالماجد:</u> جناب سپیکر!

<u>جناب امانت شاه:</u> دا Personal explanation دے جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> اوشو، هغه خو اوشو Personal explanation اوشو جی۔جی۔

<u>جناب عبدالماجد:</u> خومره پورے چه د پولیس آرډر تعلق دے جی، کوم حالات چه نن سبا راپیدا دی د پولیس په مسئله کښ، چه تفتیش په یو سړی کوی او پکړ دهکړ په بل سړی باندے کوی نو هغه پکړ دهکړ چه کوم سړے کوی کنه جی، هغه خو ډیرو لویو سختو ته مخامخ کیږی نو په دے سلسله کښ جناب، هغه تفتیشی بیا پوره

دلچسپی نه شی اغستلے۔ بنه به دا وی، څنګه چه امانت شاه صاحب اووئیل، څنګه چه جناب، زمونږ بهائی صاحب اووئیل، عبدالاکبر خان صاحب اووئیل نو یقیناً چه دا پولیس رولز چه دی دا دومره دغه نه دی، البته مونږ د په هغے کښې څه بنه تعمیری تجاویز پیش کړو، په هغے کښې مونږ تعمیری ترمیم د پیش کړو، دا به یوه بنه طریقه وی جناب، او دا کومه چه اوس لاګو کیږی په مونږ باندے، دا د دے صوبے د پاره هم خرابه ده، دا د دے عوامو د پاره هم خرابه ده جی۔ والسلام۔

جناب سپیکر: جی، فرح عاقل شاه صاحبه!

محترمه فرح عاقل شاه: جی مهربانی۔

جناب سپیکر: جی، اچھا پیر محمد خان۔

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب! که د دوه درے خبرو اجازت وی نو؟

جناب سپیکر: بس اجازت دے درته۔

جناب پیر محمد خان: بنه جی، بسم الله الرحمن الرحیم۔ ایل۔ایف۔او خو د مرکز خبره ده، ضرورت نشته هغه شوے ده۔ سپیکر صاحب! هغه فارسئ کښې وائی چه"یکے چشم سیاه داری دیگر سرمه دروند کردی۔ کشته جانان بلا اند بلا کردی"

جناب سپیکر: تاسو به ئے ترجمه کوئ، که نه مولانا محمد مجاهد صاحب به ئے ترجمه کوی؟

جناب پیر محمد خان: علماء پرے ډیر بنه پو هیږی ما لږه لږه فارسی وئیلے ده ،دوئ زیاته بنه وئیلے ده۔

جناب سپیکر: نه، چه مونږ دا غیر علماء پرے پوهه کړے کنه۔

جناب پیر محمد خان: هسے وائی چه، زه به ئے Indirect بل شانتے لږه ترجمه اوکړم، لکه زه به اختیاراتو طرف ته اشاره اوکړم خیر دے، چه د چا سره لږ غوندے اختیار وی او هغه لږ بنه زیات کړے کنه، هغه شعر خو لږ بل شانتے دے خو مطلب ئے دا اغستلے کیږی چه که د چا سره لږ غوندے اختیار وی او هغه ته لږ بنه زیات

کړے او هغه، هغه اختيار په غلطه طريقه استعمالولے شی او استعمال کړے ئے هم وی نو دا خو بيا بالکل خالص د هغه خلقو کشته جانان دے لا لا به قتليږی. لا خو دا اختيارات، د هر چا اختيار چه دے نو هغه په يو محدود حد کښ پکار وی ځکه چه انسان يو داسے کمزورے څيز دے چه ده ته اختيار ته لکوټی دحد نه زيات کړے نو بيا دے کنټرول کيدے نه شی ځکه چه بل ځائے کښ وائی چه "بنی ما بے زک سلطان ستم روا دارد زننده لشکر يا نيش هزار مرغ به سيخ" وائی چه که باچا سپاهی ته اووائی چه دے بنار ته لاړ شه او نيمه دانه اګئ راوړه نو دے چه لاړ شی نو د نيمے دانے اختيار خو باچا ورکړو خو دے به وائی زر چرګان په سيخانو کښ پئيلے واپس راوړی ځکه چه دا اختيار ورته ملاؤ شوے دے لړ غوندے ، نو اختيار لکوټی محدود پکار وی، دومره زيات نه وی پکار. بيا زه به دا عرض اوکړم سپيکر صاحب، چه په دے اسمبلئ کښ زمونږه بجټ چه پيش کيږی نو د پوليس د پاره مونږ بجټ پاس کوؤ او د پوليس د پاره تنخواه ګانے مونږ ددے اسمبلئ نه پاس کوو نو چه بجټ دا صوبائی اسمبلی پاس کوی، تنخواه ګانے مونږ ددے ځائے نه پاس کوؤ او تنخواه ورله مونږ ورکوؤ او اختيار ئے بيا په مرکز کښ د بل سره وی چه نه، ته به زما په رضا باندے چليږے ، دا ډيره غلطه خبره ده. دے طرف ته ډيره خصوصی توجه پکار ده چه زمونږ حکومت پرے هم يو سټينډ واخلی او مرکز ته داسے ډيرے غلطے فيصلے کول نه دی پکار. تنخواه زه ورکوم، بجټ زه پاس کوم نو که اختيار ئے ستا سره وی نو بيا هغه تنخواه راليږه کنه. ددے پوليس د پاره د تنخواه هغه راليږی، ددے د پاره د بجټ راليږی ځکه زما خو غريبه صوبه ده، په دے غريبه صوبه کښ زه د هغوی د پاره پيسے ورکوم. په دے غريبه صوبه کښ د هغوی د وردئ د پاره، د هغوی د ګاډی، د خرچے د پاره باقاعده پيسے مونږ ورکوؤ نو هغه پيسے به زه ورکوم، تنخواه ګانے به زه ورکوم، تاوان به زه ورکوم، خو اختيار به ئے بيا د مرکز سره وی، دا کوم انصاف دے؟ او دلته دا لاء اينډ آرډر مسئله چه روزانه راځی، په دے بنارونو کښ راځی، بهر راځی، د سمګلرانو سره مسائل راځی، د هغوی د کنټرول کولو به څوک زمه وار وی؟ مطلب دا دے چه هغه به هم د مرکز سره وی که زما د دے صوبے سره به وی؟ چه د مرکز سرے شو، قبضه کښ د هغوی شو،

د هغه په رضا باندے چلیږی، زما په دے صوبه کښ امن و امان خو زه بیا نه شم راوستلے؟ دا خو بیا مرکز به ئے راولی۔ بیا که یو سپاهی یا یو پولیس غلط کار کوی یا په یو ځائے کښ ضرورت دے، د لاء اینډ آرډر مسئله ده، نور واقعات راځی، په دے اسمبلی کښ د هغه په باره کښ لګه څه خبره او چتیدے شی، په دے اسمبلئ کښ چه یو ممبر پاځی او د هغه خلاف خبره کوی یا د هغه په حق کښ څه کول غواړی نو دلته به یو منسټر پاځی، لاء منسټر به په هغه ساعت پاځی، هغه به وائی چه دا مرکزی سبجیکټ دے ځکه دا د مرکز ملازمین دی، ښکاره خبره ده تاسو په دے باندے بحث نه شئ کولے او دا به هغوی، لکه نن چه د یونیورسټئ مسئله مونږ ته راځی، بعضے مسائل د یونیورسټی چه دی نو هغه بیا دا مسئله وی مونږ ته، ولے چه زمونږ په اختیاراتو کښ نه وی نو دے خبرے ته، زه دا عرض کوم چه دا داسے معمولی خبره نه ده، دا ډیره اهمه خبره ده۔ بل د لاء اینډ آرډر ټول اختیارات د دے سره تعلق لری نو چه دا زمونږ په کورونو چاپے لګول، دا مرکز ته ورکړی اختیار، دلته کښ د منسټرانو او د صوبائی حکومت لاس ته اوترے چه دا کوم سپاهیان چه دی، کوم پولیس چه دے، دا به د مرکز سره وی نو نه دا صوبه چلیدے شی، نه حکومت چلیدے شی، نه چیف منسټر پکښ څه چل کولے شی، نه پکښ بل منسټر کولے شی۔ لهذا دا ډیره اهمه خبره ده او دا د واپس مرکزی حکومت واخلی۔ شکریه جی۔

جناب سپیکر: جی، سکندر شیر پاؤ صاحب! په پولیس آرډر باندے تقریر کول غواړی کنه؟ ځکه چه بیا۔۔۔۔

جناب سکندر حیات خان: ما دا پوائنټس لا د غه کړی نه دی جی نو۔

جناب سپیکر: نه، بیا خو دغه کیږی بس، جی۔

جناب سکندر حیات خان: بس ټهیک شوه جی۔

جناب سپیکر: ښه جی۔

جناب مظفر سید: زه ولاړ ووم جی، هغه دے نه وو۔ ستاسو نظر هغه طرف ته شو، هسے زه ولاړ ووم۔

جناب سپیکر: مظفر سید صاحب؟

جناب مظفر سید: او جی۔

جناب سپیکر: نه، نه ماوئیل چه هغوی پرے څه وئیل غواړی؟ نوم ئے ورکړے دے څکه، عبدالاکبر خان!

جناب مظفر سید: سرا! نو ما ته اجازت دے، زه او کړم؟

جناب سپیکر: جی۔

جناب مظفر سید: بسم الله الرحمن الرحیم۔ شکریه، جناب سپیکر صاحب۔ یو طرف ته چه عبدالاکبر خان او زمونږ نورو فاضل ممبرانو څومره په تفصیل سره په هغے باندے خبره او کړه نو Repetition نه دے پکار، اګرچه په هغے کښې مونږ ته د Amendment حق نه دے حاصل او هغه صدر پاکستان ته حاصل دے خو مونږ خپل آواز اوچتولے شو او اوچتول پکار دی۔ جناب سپیکر صاحب! یو طرف ته دومره ډیر اختیارات او هغوی ته دومره لوئے اختیارات ملاویدے شی، بل طرف ته د امن وامان صورت حال دادے چه ما هغه بله ورځ هم عرض کړے وو چه خاصکر په ملاکنډ ډویژن کښې، په مالاکنډ ایجنسئ کښې چه کوم بد صورت حال دے چه هغه، هلته هیڅ یو کس د مازیګر نه، د ماښام نه پس با لکل په دغه لاره باندے سفر نه شی کولے۔ په دغه ځائے کښې یو داسے اډے دی چه هغے ته ګاډی تښتولے کیږی، سړی ورته تښتولے کیږی۔ د سړی د سر قیمت ئے لګولے دے، د ګاډو قیمت دے او بیا د خلقو سره بارګینګ کیږی، ډیل ورسره کیږی او بیا بیرته ټهیک ټهاک راځی او مونږ پرے هیڅ پوهه نه شو چه دلته دے پولیسو څه او کړل؟ او هلته کمانډنټ وو او ایس پی ئے ورته راوستلے دے، هغه ئے کمانډنټ کړے دے، هلته نور هم یو بد غوندے صورت حال دے۔ ددے وجے نه خاص کر په مالاکنډ ایجنسئ کښې چه څومره سنګین صورت حال دے د هغے خو نوښس اغستل پکاردی چه یره په هغه ځائے کښې خلقو ته بلکل تحفظ نشته، خلق غیر محفوظ دی او آئے دن په هغے کښې دومره واقعات کیږی خو مونږ خاموش تماشائی ناست یو۔

جناب سپیکر: مظفر سید صاحب! په لاء اینډ آرډر Situation باندے بحث کوے که په پولیس آرډر باندے بحث کوے جی؟

جناب مظفر سید: بس په پولیس آرډر مے بحث کوؤ، په پولیس آرډر مے بحث کوؤ خو بل طرف ته ئے Out put دادے۔ ددے وجے نه مونږ د دے مذمت کوؤ او څنګه چه زمونږ فاضل ممبرانو اووئیل چه ددے Accept کولو ته کم از کم صوبه سرحد تیار نه دے جی۔

جناب سپیکر: جی، امان الله حقانی صاحب!

مولانا امان اللہ حقانی: شکریه، جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب! چه کوم دا پولیس ایکټ دے او وړاندے د Colonial نظام د وخت نه راروان دے، په هغے کښې هم ډیر Flaws دی او ډیر مشکلات ورکښې شته د امن و امان په حواله سره خو چونکه اوس چه کوم دا د پولیس آرډر 2002 خبره کیږی، ملګرو په هغے باندے خپلے رائے ورکړے نو یقیناً مونږ له وړاندے هم ډیپارټمنټ۔۔۔۔

جناب سپیکر: آرډر پلیز۔

مولانا امان اللہ حقانی: مونږ له هم ډیپارټمنټ جی، په دے د بریفنګ بندوبست کړے وو او دائے وئیلی وو چه یره د صوبو نه ئے په دے کښې Recommendations او تجاویز غوښتلی دی۔ددے د ریفارمز د پاره خو بیا د هغوی نه مونږ سوال اوکړو چه یره دا خو مونږ پوره سټډی کړے نه دے، تاسو مونږ له ددے کاپئ راولیږئ، مونږ به په دے باندے پوره سټډی اوکړو، بیا تاسوته مونږ به تجاویز درکړو۔د هغے نه پس جی، بیا هیڅ پته اونه لګیدله نو زما جی، تجویز دادے چه په دے باندے د اسمبلئ ممبران، هغه د پرے پوره په دے باندے یو کمیشن جوړ شی، په دے د تجاویز ورکړے شی چه کومے خبرے، دا خو چونکه یقیناً چه کوم دا لوکل ګورنمنټ آرډیننس نافذ شوے دے او اوس دا پولیس آرډر 2002 ئے هم د هغے دوجے نه دوئ لاګو کړے دے نوپه دے کښې ډیر Flaws شته دے جی، او یقیناً دا من وامان مسائل د هغے د وجے نه ډیر پیدا دی نو زما جی، خپله تجویز دادے چه په دے باندے د زمونږ د صوبائی اسمبلئ ممبرانو یو کمیشن جوړ شی او د دے د پوره مکمل سټډی اوکړی، بیا د تجاویز وړاندے ورکړی۔

جناب سپیکر: قاسمی صاحب!

جناب ابراہیم خان: جی، شکریه جناب سپیکر۔ جناب سپیکر صاحب! زمونږ په دے علاقه کښې جی------

جناب سپیکر: په پولیس آرډر باندے خبره-----

جناب ابراہیم خان: او جی او، هم ددے متعلق ده۔ څه کسان جی ما ته راغلل۔ هغوی اووئیل چه زمونږه دا علاقه ده گلبرگ، زما د حلقے حصه ده، وئیل ئے چه په دے کښې یو ځائے دے جی، چه د بدکارئ اډه ده۔ په هغے کښې ما د پولیس آفسرانو سره بار بار رابطے اوکړے۔ پولیس آفیسرانو به جی، دا اووئیل چه زمونږ سره داسے څه اختیار نشته دے د دے متعلق، نو زه دا وایم جی، چه کله یو سیگرټ والا اونیسی، په هغه پسے خو سیرچرس واچوی۔ کله چه جی، یو عام سړے روان وی، هغه د شک په بنیاد کښې نیولے شی، کله چه یو غریب سړے جی، ددوه درے سوه روپو کپړے والا په سائیکل باندے روان وی، هغه خو دوئ اونیسی، د هغه نه هغه کپړا واغستلے شی خو دا اختیار جی د دوئ سره نشته دے چه اعلانیه طور هغه ځائے کښې بدکاری کیږی خو د پولیس انتظامیه دا وائی چه زمونږ سره په دے کښې څه اختیار نشته دے نو زه دا وایم چه د دوئ سره ددے اختیار شته دے چه سیگرټ والا اونیسی سیر چرس ورپسے واچوی، دا اختیار ورسره شته چه یو غریب سړے ددرے سوه، څلور سوه روپو کپړا وی ورسره په سائیکل روان وی، په هغه پسے منډے وهی وهی جی، په هغه مخکښې ورځو کښې یو واقعه داسے اوشوله چه په هغه سائیکل والا پسے ئے دومره منډے اووهلے جی، چه هغه سائیکل ایکسیډنټ اوکړو او د هغه دوه درے سوه روپو کپړا ورسره وه او هغه غریب چه دے په ایکسیډنټ کښې وفات شو لو خو دے پولیس ظالم چه دے، هغه پرے نه ښودلو، نو دا وایم جی چه دغه اختیار د دوئ سره شته دے او دا ورسره نشته دے۔ په هغے کښې جی ما پوره انتظامیے سره بار بار رابطه اوکړه او پولیس دومره جرات او نه کړے شو چه په هغه زنانه باندے لاس واچوی۔ هغه وجه څه ښائی چه ددے زنانه خاوند یو بالا آفسر دے، نو زه داوایم چه زمونږه، ما هغوی ته لکه دا هم اووئیل چه یره مونږه خو د اسلام په نامه باندے راغلے یو او مونږ ته خلق دا وائی چه ستا سو په اسلامی حکومت کښې هم چه دا څیز بند نه شی نو دا به څوک بندوی؟ د دے د پاره هم زما دا درخواست دے چه د دے د

پاره د هم څه قانون جوړ کړے شي چه د غه خلقو ته هم څه سزا په دے کښې ملاؤ شي جي۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: جمشید خان صاحب!

جناب جمشید خان: شکریه، جناب سپیکر۔ بسم الله الرحمن الرحیم۔ په پولیس آرډر باندے جناب سپیکر، ډیرے خبرے اوشوے۔ عبدالاکبر خان صاحب، بشیر بلور صاحب او ډاکټر صاحب پرے ډیرے خوږے خبرے اوکړے۔ زما په خیال باندے دا د حکومت د پاره یو ډیر ښه دغه دے جی، د تیښتے یوه لار ورته ملاؤ شوه، که بیا اپوزیشن ریکوزیشن کښې د امن و امان خبره کوی نو دوئ پکښې وئیلے شی ښکاره چه یره دا خود مرکز Subject دے او مونږه به ترے نه خلاص یو۔ د دوئ د پاره د ریلیف یو لار ملاؤ شوه او زما په خیال پولیس چه دلته څه کوی، هغه ټول مونږ ته، تاسو ټولو ته پته ده او په دے کښې د اصلاحاتو خبرے پکاردی او په دے کښې څه داسے طریقه پکار ده چه اپوزیشن او حکومت داسے طریقه جوړه کړی چه د پولیس د دے مظالم نه دا خلق د مه شی او عوامو ته څه ریلیف ملاؤ شی۔ ډیره مهربانی۔

جناب سپیکر: جی۔

جناب مثمر شاہ: جناب سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: مثمر شاہ صاحب!

جناب مثمر شاہ: جناب سپیکر صاحب! بسم الله الرحمن الرحیم۔ د پولیس آرډر په باره کښې خبره شروع وه، زه د خپلے علاقے په حواله باندے خبره کوم چه عجیبه خبره دا ده چه تقریباً شلور پنځه ورځے او شولے چه زمونږ علاقے ته یو ایس۔ایچ۔او صاحب رابدل شوے دے، هدایت الله شاه صاحب، الحمدلله هغه په پنځه ورځو کښې هغه علاقه داسے Cover کړله چه بدمعاشان ئے اونیول، قاتلان ئے اونیول۔ څو ورځے مخکښې د شب قدر بازار، هغه د امن ځائے نه وو، د سکون ځائے نه وو لیکن کله چه دا ایس۔ایچ۔او صاحب راغے نو هغه د امن او د سکون ځائے اوګرځیدو۔ د دے نه مخکښې د پولیس په ګاډو کښې بدمعاش به لاړو، هغه ته تحفظ وو، د علاقے خلقو ته تحفظ نه وو۔ زما مقصد دا دے چه کوم

د پولیس آفسران چه ایس۔ایچ۔او وی یا ډی۔ایس۔پی صاحب وی او هغه بدمعاشانو ته تحفظ ورکوی او عوامو ته مشکلات پیدا کوی، پکارده چه د هغوی خلاف انکوائری او شی چه د دے نه مخکښ یعنی څومیاشتے تقریباً ایس۔ایچ۔او وو، دهغه په وخت کښ داسے حالات جوړ وو او دے راغے، دے هم انسان دے، الحمدلله هغه هم انسان وو۔ زما مقصد دادے چه دے ته پوره توجه ورکړے شی، انکوائری اوشی چه کوم کسان د قوم حفاظت نه شی کولے، هغوی له بیا د آفسرئ درجه ولے ورکړے کیږی؟ هغه آفسران د راشی او هغوی له د د ایس۔ایچ۔او یا ډی۔اس۔پی درجه ورکړے شی چه کوم د قوم حفاظت خو کولے شی کم از کم۔ په علاقه کښ یو څو د شمار ایس۔ایچ۔اوز دی یا ډی۔ایس۔پیز دی چه هغه د علاقے صحیح طریقے سره حفاظت کولے شی او صحیح طریقے سره دقوم خدمت کولے شی۔ اکثر پکښ داسے دی چه هغه نه شی کولے او هغے نه علاوه زه داخبره کوم چه زمونږ د شبقدر سره چه کومه ایریا ده، په دے 25 دیهاتو کښ نو د شبقدر علاقه تقریباً څه ډیره حده پورے بنه ده لیکن چه بیا پشاورضلعے سره کومه ده، هغه بالکل د بدامنئ اډه ده او هلته د پولیس چه کومه نفری مقررده نو صرف د هغه تهانړے د چار دیوارئ حفاظت کوی، د هغے نه بهر بالکل نشی وتلے۔ د تهانړے په خوا کښ قتل و قتال کیږی، هغوی بهر نه اوځی، د تهانړے په خواکښ ګاډی لوټ کیږی، هغوی بهر نه اوځی نو بیا په دغه ځائے کښ د دے پولیس ضرورت څه دے؟ زما مقصد دادے چه د پشاور ضلعے سره چه د کوم پولیس تعلق دے، د کومو تهانړو تعلق دے، د هغے د پوره تپوس اوکړے شی چه دغه خلق خپله ډیوټی په صحیح طریقے سره اوکړی۔ دغه علاقے په حواله زه خبره کوم، دلته باړی کورونه ورته وائی، خنجرین ټاپو، په هغے کښ د سرور په لاس باندے چرګان جنګیږی، جوارئ پکښ کیږی، مرزان جنګیږی، د هغے نه علاو، دا د منګل په ورځ باندی کیږی او بیا د اتوار په ورځ باندے عائشے کورونه، پرچاوے ورته وائی، په هغه ځائے کښ هم دغه معلاملے شروع وی نو بیا د دے 25 دیهاتو چه دا ددے علاقے سره شامل دی، د دے مقصد څه شو؟ یا خو دا ایجنسئ سره شامل شی چه هر سړے خپل ټوپک راواخلی او خپل حفاظت کوی او یا د د علاقے سره صحیح شامل شی چه خلق په

امان سره، په اطمینان سره خپله زندگی تیره کړی او پولیس ډیوټی کوی۔ شکریه جی۔

جناب سپیکر: ډیره مهربانی جی۔ سلمی بابر صاحبه!

محترمہ سلمی بابر: بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ شکریہ جناب سپیکر صاحب کہ آپ نے مجھے کچھ بولنے کا موقع دیا۔

جناب سپیکر: میں تو ہمیشہ کوشش کرتا ہوں۔ آپ مائیک آن کریں تو میں تو موقع دیتا ہوں۔

محترمہ سلمی بابر: ایک منٹ کی بات کرتی ہوں مگر بات یہ ہے کہ یہاں عبدالاکبر صاحب نے اور باقی تمام ہمارے جتنے بھی معزز اراکین نے بات کی ہے، میں ان کی تائید کرتی ہوں اور کہتی ہوں کہ اگر ہم اپنے حقوق کی خاطر خود نہیں لڑیں گے تو اور کوئی یہاں نہیں آئے گا۔ ایک گھر میں آپ چولہا رکھتے ہیں، چولہے پر پکانے والا کوئی نہیں ہوتا، سودا بھی نہیں ہوتا، پھر آپ کیسے کہیں گے کہ ہم اس میں کھائیں گے یا اس سے ہانڈی بنائیں گے؟ میں آپ سے تھوڑی سی یہ گزارش کرتی ہوں اور پرزور گزارش کرتی ہوں کہ اپنے صوبے کے حقوق کے لئے لڑنا ہمارا حق ہے۔ آپ اپنی اس چیز اور اپنے اس قانون کو اپنے ہاتھ میں رکھیں، اپنی Power اپنے ہاتھ میں رکھیں اور کسی کو بھی نہ دیں کیونکہ یہ ہمارا حق ہے۔

جناب سپیکر: تھینک یو۔ کاشف اعظم صاحب!

جناب نادر شاہ: سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: کاشف اعظم صاحب!

جناب کاشف اعظم: شکریه، جناب سپیکرصاحب۔ د دے ټول بحث نه پس دا یو Consensus په دے ایوان کښ Develop شو چه پولیس آرډر یا پولیس آرډیننس 2002 چه کوم دے، هغه غیر آئینی هم دے، غیر قانونی هم دے۔ څنګه چه عبدالاکبر صاحب اووئیل، نه صرف د صوبائی حقوقو خلاف ورزی ده بلکه د انسانی بنیادی حقوقو هم دا خلاف ورزی ده۔ د دے سره به، څنګه چه زما مشر بشیر بلور صاحب اووئیل، یو بے لګام اس به شی دا پولیس والا، بلکه زه وایم چه پولیس ادارے نه به یو مافیا جوړه شی او State within the state تصور د دے نه زمونږ ذهن ته راځی او دوئ خو وائی عمل درآمد په هغے نه کیږی خو په دے باندے دډیرے مودے نه عمل درآمد شروع دے لکه بغیر د وارنټ نه ګرفتاری، په کور باندے د شپے چاپے وهل، پوړئ به او لګوی، پولیس به

وروا وړی، بغیر لیډیز پولیس نه کارروائی کول، په هفتو هفتو سړے ساتل بغیر
ایف آئی آر نه، ما سره اوس Recently یو واقعه اوشوه، زه په لاره راتلم په یو
جماعت کښې په لاره باندے مونږ راغلو چه اومے کتل یو څو کابلیان ماشومان
اودریدل وئیل ئے چه مونږه ئے هغه ورځ نیولے وو، درے ورځے څو مونږه تیرے
کړے ،د اووه اووه، اته اته کالو ماشومان وو او زما نه چه کوم مشر ورور دے ،
هغه اوس هم پولیس سره دے۔ یونیورسټی ټاون تهانړے والا قصه وه، ما چه
یونیورسټی ټاؤن تهانړے واله نه تپوس اوکړو نو هغه ما ته اووئیل چه پریږده مړه
کابلیان دی نو ما ورته اووئیل چه د خدائے بنده، کابلے دے خو انسان خو دے ،
مسلمان خو دے ، هفته هفته پورے هغوی بغیر دغه باندے ساتل او زه ئے بیا
دومره مجبوره کړم چه ما ډی آئی جی صاحب ته اووئیل، هغه ما ته اووئیل چه دا
بے گناه دی۔ وئیل ئے چه ما هفته تفتیش کړے دے ، بے گناه دی خو زه به ئے په
آرام نه پریږدم۔ بیا زه مجبور شوم چه ما ډی آئی جی صاحب ته اووئیل چه یره دا
تاسو څه کوئ؟ نو دغه وجے نه دا پولیس آرډیننس یا پولیس چه کوم دے دا یو
مادر پدر آزاد محکمه ده او د دے سره به نوره هم شی نو لهزا زمونږ د ټولو، د
دے ټول ایوان دا یو آواز دے چه دا خبره ټهیک نه ده۔ دا زمونږه اختیار دے ، په
دے اختیار باندے هغوی د قابض کیدلو کوشش کوی نو مونږ د دے بهر پور
مذمت هم کوؤ او انشاءالله تعالیٰ دا کوم آواز مونږ چه د دے اسمبلئ نه
اوچتوؤ نو انشاءالله تعالیٰ دا به مونږ راایساروؤ۔ زمونږ حکومت هم په دے کښې
سنجیدګئ سره دلچسپی اخلی۔ په اخباراتو کښې هم مونږ ګورو د ټولو صوبو په
دے اعتراض دے ، د څلورواړو صوبو په دے اعتراض دے څکه چه ټول په دے
خبره باندے پوهیږی چه دا زمونږ اختیار او زمونږ دحق سلب کولو د مرکز یو
کوشش دے ۔ هغه ځان نور هم طاقطور کوی، خو چه کله صوبے طاقتورے وی نو
د هغے سره به دا وفاق چلیږی۔ چه د صوبے سره خپل اختیار وی، د امن و امان
ذمه واری د صوبائی حکومت ده، چه د هغے سره خپل اختیار وی نو هغه به
جوابده وی، څنګه چه دوئ اشاره هم اوکړه چه سبا مونږ وایو چه دا د مرکز نه
تپوس کوؤ هر یوه خبره به مونږ بیا مرکز ته اوړو، وړه وړه خبره هم نو لهذا زه هم د
دے ټولو ملګرو د دے آواز سره خپل آواز شاملوم۔ والسلام۔

جناب سپیکر: جناب نادر شاہ!

جناب نادر شاہ: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ دا کوم پولیس آرڈر یا دوئ چہ کوم آرڈیننس جاری کڑے دے، د دے پہ بارہ کښې نو دا فیل شوے نظام دے جی۔

